مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لَوَنګی جبارخیل

۲۰۲۱/۱۰/۲۱

# داسې وي

د کلـیـوالي مـیـنـې حـال داسې وي
سـمـه یې ژبـه سم یـې خیال داسې وي

پـه تـش دیـدن دواړه خوشال وي داسې
د دوه مـیـنـو هـم وصـال داسې وي

په زړونو پاک وي غل و غش نه لري
پـه لـړ نـاسـم خپـه، وبـال داسـې وي

ستـوري بـه هـم د یـار خـالـونـه ګڼـي
مینه دې داسې وي او خـال داسـې وي

فالبین که سم فال په ناسم تعبیر کړي
دوی یې پـه بنـو ګڼي نو فال داسې وي

۲۰۲۱/۰۹/۰۸




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ